ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



# په "نوې چپې" ناول کښې د کردار نګارۍ تجزيه
# An analysis of Characterization in "Navi Chape Navel"

1. محمد انور خان[1]
2. ډاکټر نور البصر امن[2]

*Amir Hamza Khan Shinwari (1907-1994) is a shining star in Pashto poetry and literature, who has beautifully adorned the realm of Pashto literature with lovely flowers in both poetry and prose. Hamza Shinwari's contribution to Pashto prose is invaluable and precious, and it encompasses various genres such as drama, research, epistolary, etc. Hamza Shinwari's sole novel is an important addition to the evolution of novel-writing in Pashto literature, which simultaneously impressed both the masses and official circles. This novel is fundamentally a political and ideological novel, in which Hamza Shinwari has portrayed the political situation in the Pashtun belt immediately after independence. This article discusses the characterization of Amir Hamza Khan Shinwari's novel "Navi Chapai" and provides a critical review.*

**Key Words:** Amir Hamza Khan Shinwari, Novel, Characterization, Character etc.

حمزه بابا (۱۹۰۷ - ۱۹۹۴) د پښتو ادب يو استاد شاعر دے چې شاعرانه عظمت يې هر چا منلے او مني. شاعري يې د غزل په زمکه زياته هم ده او د تغزل په خوږو لړلې هم ده نو ځکه خو د "غزل بابا" دے. خود نظم په ميدان کښې ئې هم زړۀ پورې ګلونه د پښتو ادب په شمله کښې ټومبلي دي. د شعر ترڅنګ د حمزه بابا نثري کار لا خور اور دے او د ادب په يو شمېر اصنافو او موضوعاتو لکه ډرامه، ناول، سفرنامه ، خطوط نګاري، تصوف، فلسفه وغيره باندې اډانۀ دے.

په کال ۱۹۵۷ء کښې د اميرحمزه خان شينواري يواځنې ناول " نوې چپې" چاپ ته وسپارلو چې د اولس او پولس نظرونه يې ځان ته راواړول. اولس په دې معنٰی چې په دې نظرياتي ناول کښې د پښتنو د اتفاق او خپل منزل ته د رسېدو کوم مباحث راوړلي شوي وو، هغه د خلکو په ذهنونو کښې د سياسي تحريک سبب جوړ او اثري کېدے شو او پولس په دې معنٰی چې د رياستي ادارو پام هم دې ناول ځان ته راواړولو او په دې کښې چې د کومې کوټلې فلسفې په بنياد د پښتونستان په اړه کومه منصوبه وړاندې شوه، د هغې په غبرګون کښې " نوې چپې" د سرکار د بندېز د لاندې راغلو.

> "په کال ۱۹۵۷ء کښې چې کوم اهم ناول چاپ شوے دے. هغه د حمزه بابا " نوې چپې" دے. چې مونږ ئې د نظرياتي ناولونو پۀ قطار کښې شمېرلے شو. پۀ دې ناول سياسي رنګ خور دے. دې ناول کښې د خدائي خدمتګارو د تحريک مشن او د پښتنو سياسي نظريات په ادبي پېرايه کښې وړاندې شوي دي".[i]

ځينې ليکوالانو د حمزه بابا سفر نامه "نوے پښتون" هم د ناول د صنف په توګه ياد کړے دے خو حقيقت دا دے چې حمزه بابا هم د ايواځينې ناول ليکلے دے او د دې خبرې تصديق هغه په خپله کړے دے، د کوم درک چې مونږ ته د خاطر غزنوي د "داسنتان امير حمزه" نه په ښۀ توګه لږي[ii].

---

[1] . M. Anwar Khan Ph.D Scholar UoM
[2] . Dr. Noorulbasar Aman Assistant Professor UoM

- د ناول پېژنګلو:

پروفېسر انور جمال په خپل تصنيف "ادبي اصطلاحات" کښې د د ادبي صنفونو د تعريف او تعارف په لړ کښې ناول مونږ ته داسې راپېژني

> "ناول صنفِ نثر ہے۔ اور داستان کی ترقی یافتہ شکل ہے۔ جس کا مفہوم نیا ، انوکھا ، عجیب ، نمایاں ہے۔ ناول وہ نثری کہانی ہےجس میں کسی خاص مقصد کے تحت زندگی اور اس کے متعلقات کی حقیقتوں کی ترجمانی کی جائے "۔[iii]

ترجمه: ناول د نثر يو صنف دے. او د داستان پر مختللې بڼه ده. چې معنې نوے، ناشنا، عجيبه، او ښکاره دي. ناول هغه نثري قيصه ده چې په کښې د يو خاص مقصد د لاندې د ژوند او د هغه د اړونده حقيقتونو نه ترجماني په کښې شوې وي.

د درياب لغت د ناول د پېژندګلو په اړه داسې ليکي،

"ناول: ( نا-ول) اسم. واحد . مذکر . په افسانوي طرز ليکلے شوې وړده قيصه. وړد نثري داستان .(م انګريزي NOVEL)". [iv]

که د "ناول" د ټکي کنهه ګورو نو دا د اطالوي ژبې "Novella " نه اخذ دے چې په دغه ژبه کښې يې معنې ده "نوے څيز". معلومېږي داسې چې د دې نوم د خپلولو سبب دا وي چې د ناول ابتدايي شکل داستان دے او داستان به عمومي توګه د مافوق الفطرت مخلوقاتو لکه دېوانو، پېريانو، ښاپېرو د کردارونو نه تاوېدۀ او دغه ټول معلومات به حد درجه ډرامايي او نوي وو، ځکه نو د ناول په "Novell " سره ياد شو.

د انګريزۍ ژبې د ادبي اصطلاحاتو لغت په دې اړه ليکي،

> "Novel: Latin novellus, abbreviation of nouns, new Italian in novella, new things. It was first used for such tales as those of Boccaccio. A fictitious prose narrative of considerable length dealing with human beings and their actions over a period of time and portraying varieties of human characters in relation to life in a plot of more or less intricacy" [v].

ترجمه: ناول لاطيني ناويلس چې د اسمونو مخففات او په اطالوي ژبه کښې د ناويلا په شکل نوي څيز ته وائي، په وړمبي ځل د دې توري استعمال د داسي قسمه قصو دپاره کېدلو لکه د ګيوواني بوکاکيو (Giovanni Boccaccio) قيصې. د قابل ذکر اوږدوالي افسانوي بيانيه نثر چې په کښې د انسانانو د دوي د افعالو د يو خاص وخت دننه قيصه کېږي. په دې کښې ګڼ شمېر کردارونه د انساني ژوند په تناظر کښې کله په لږ او کله په ډېر پېچيده پلاټ وړاندې کېږي.

دا خبره به وړاندې هم راشي چې ناول د داستان پرمخ تللے شکل دے او د داستان په مقابله کښې منظم او کوټلے دے. د داستان ليکنې د پاره لکه د چاربيتې دومره کوټلي ټاکلي قواعد نۀ وو او هر چا به د خپل مزاج مطابق چاربېتې ليکلې، د کوم په بنياد چې مونږ ته د چاربېتو بلها قسمونه په لاس راځي، هم دغه حال د داستان هم دے، خو دا فن ناول ته د رارسېدو سره مربوط، منظم او قواعدو په چوکاټ کښې شو.

> "د ناول د آرټ لپاره فني او تکنيکي اصول غوره شول او د دغې اصولو په غېږه کښې ناول په نوي نوي رنګ کښې ژوند بياموند او ورو ورو ئې دومره وده اوکړه چې د داستان په مخ ئې د ګمنامۍ او ورکۍ ګرد ونه

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



خوارۀ کړل۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ په ناول کښې مختلف خوارۀ وارۀ واقعات د یو میرلي مرکز نه تاوېږي او داسې یوه واقعه هم د ناول د فن په جامه داغ لګولے شي چې د مرکزي قیصې او تهیم Thems سره ئې څه تړون نۀ وي"[vi]۔

❖ ناول او کردار نګاري:

په ناول کښې کردار نګاری، په اړه د تفصیل راوړلو نه مخښکې دا وضاحت پکار دے چې د دې صنف د کردار سره اړیکه څومره نزدې ده۔ نو په دې حواله غرض دے چې د ناول او کردار په مېنځ کښې د ژور تعلق اندازه د دې خبرې نه لږې چې د ناول په قسمونو مونږ کله خبره کوؤ نو په هغه قسمونو کښې یو قسم د "کرداري ناول" ناول هم دے۔ دا یو داسې ناول وي چې د یو خاص کردار د وړاندې کولو یا مثالي جوړولو لپاره لیکے شي۔

" ناول کی اقسام میں سب سے زیادہ اہمیت اس قسم کی ناولوں کو دی جاتی ہے، جنہیں کرداری یا کردار کے ناول کہتے ہیں۔ اس قسم کے ناولوں میں قصہ کی کوئی اہمیت نہیں ہوتی اور واقعات کسی خاص نقطہ نظر کی طرف جاتے ہوئے معلوم نہیں ہوتے۔ اگر کوئی ہلکی سی لہر قصے کی ہوئی بھی تو تمام کرداروں کو اس سے کوئی تعلق نہیں ہوتا۔ کرادر قصے کی جکڑبندی سے بلکل آزاد ہوتے ہیں۔ برخلاف اس کے واقعاتی ناول میں واقعات سے اہم نتائج نکلتے ہیں۔ کرادری ناول میں محض کردار کی خصوصیات کا انکشاف کرتے ہیں"[vii]

ژباړه: د ناول په قسمونو کښې د ټول نه زیات ارزښت هغه ناولونو ته ورکولے شي، کوم ته چې کرداري یا د کردار ناول وئیلے شي۔ په دې قسم ناولونو کښې د قیصې کوم ارزښت نۀ وي او واقعات کوم خاص نقط نظر اړخ ته نۀ ځي۔ که چرته د قیصې کوم معمولي چپه راشي هم، نو د هغې سره د کردارونو کوم تعلق نۀ وي۔ کردار د قیصې د زنځیر نه ازاد وي۔ په خلاف د واقعاتي ناول، په کوم کښې چې د واقعاتو نه زیاتې اهمې نتیجې راوځي۔ کرداري ناول فقط د کردار د خاصیتونو څرګندوي۔

انسائیکلو پیډیا امریکانا د "کردار" په حواله تمهید تړي او بیا ئې تعریفوي۔

"While it is doubtless that things primarily weight and evaluate in our discussion of moral worth's are actions, the actions of an individual do not form haphazard aggregate of unrelated deeds. There is a certain continuity in a man acts. Whereby one who known him is able to predict pretty much, what he will do continuity is due the fact that behind the shifting play of emotions that is to be found in the mental life of every one, there is a background of permanent emotional associations and emotional process which changes very slowly or not at all. This stable background of moral life is the Character". [viii]

ژباړه: دا خبره د شک نه بالا ده چې کوم څېزونه د اخلاقي قدرونو په بحث کښې د قدر او اهمیت وړ ګرځي، هغه اعمال دي۔ د یو وګړي اعمال ګډوډ او بې ربطه نۀ وي۔ بلکې په اعمالو کښې یو تسلسل وي۔ په دې بنیاد د یو چا په باره کښې خبردار سړے به دا پیش ګویي کولے شي چې دغه کس به، په کومو حالاتو کښې کوم قسمه عمل کوي۔ د یو انسان په اعمالو کښې پرله پسې یو رنګي د دې حقیقت سره اړه لري چې په کوم

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



کښې دغه انسان د جذباتو د بدلون سره مخامخ کېږي او د دې په پس منظر کښې د مستقل جذباتو اوږد تړون وي. کوم چې په اسانه سره اړخ نۀ بدلوي او کۀ بدلوي هم ډېر په په قلار او استقامت سره، هم دا کوټلې، مستقل او د تېر وخت وخت سره تړلے شالید کردار بللے شي.

ډاکټر محمد اعظم اعظم په خپله پي. ایچ. ډي مقاله " پښتو ادب کښې کردار نګاري" کښې د کردار، کردار نګارۍ او د پښتو ادب قیصه ایز ادب کښې د راوړو او تراشلو کردارونو په تفصیل سره جاج اخستے دے. د کردار نګارۍ د تعریف په ضمن کښې لیکي.

> " د ادب د هغو اصنافو د پاره کوم چې د قیصې عنصر لري، د کردارونو وجود یو لازمي شے دے. بې له کردارونو د ډارمائي او قصیصي ادب هډو تصور نۀ شي کېدے. ځکه چې د قیصې، ډرامې یا نوال تعلق په څۀ نه څۀ شکل کښې د وګړو سره وي او دغه وګړي د قیصې کردارونه وي. د دغې کردارونو د فني رغولړے د پاره چې کوم هنر پکارولے شي، هغې ته د ادب په اصطلاح کښې کردار نګاري وائي". [ix]

"په ناول کښې د قیصې د بیانولو درې طریقې دي. وړومبۍ طریقه دا ده چې ناول نګار ټوله قیصه او د کردارونو ښه او بد پخپله بیانوي او د کردار د خولې خبرې (مکالمې) پکښې نۀ وي. خو د مکالمو نه بغېر قیصې بې خونده شي. برهان الدین کشکي په خپل ناول " پټه مینه" کښې دا طریقه خپله کړې ده. دویمه طریقه دا ده چې یو ناول نګار د یو کردار د خولې قیصه شروع کړي او د " زۀ " او " زما" په ذریعه ټوله قیصه سر ته ورسوي. خو په دې طریقه کښې د لوستونکي دا خیال راولاړېږي چې ناول نګار خپلې کارنامې بیانوي او خامخا ځان اوچت ثابتوي. د پروفېسر صاحبزاده محمد ادریس په ناول "پېغله" کښې هم دا طریقه خپله کړے شوې ده.

دریمه طریقه د خطونو د لیکلو ده په دې قسمه ناولونو کښې زلمے (هیرو) او پېغله (هیروئن) یو بل ته خطونه لیکي او ټوله قیصې د خطونو په ذریعه مخ په وړاندې ځي. اشرف دراني په خپل ناول " زړکې سترګې" کښې د خطونو دا طریقه خپله کړې ده. [x]

د ناول د فن د پوهانو ترمخه، ناول نګار دې د خپل لیک د پاره هغه کردارونه انتخاب کوي چې کوم د دۀ په وړاندې وي او دا ترې په پوره ډول خبر وي. ځکه چې د یو کردار د موثر جوړولو لپاره په هغې کښې ډوبېدل د لیکوال او اداکار دواړو د پاره ضروري وي.

> " دیگر فنون کی طرح ناول میں بھی زندگی کا نقشہ ہونا چاہیئے اور جیتا جاگتا یہ نقشہ ہوگا ، ناول اتنا ہی کامیاب ہوگا۔ ناول نگار کےلئے ضروری ہے کہ وہ اپنے تجربات ہی ناول میں بیان کرے اور زندگی کے انہیں افراد کا نشقشہ کھینچے ، جن کے بابت وہ پوری واقفیت رکھتا ہے" [xi]

ژباړه: د نورو اصنافو په شان په ناول کښې هم د ژوند نقشه پکار ده او دا نقشه چې څومره واضحه وي نو ناول به هومره کامیاب وي. د ناول نګار د پاره ضروري ده چې خپل تجربات په ناول کښې بیان کړي او ژوند د هغه وګړو نقشه راکاږي، د کوم سره چې دا نزدې پېژندګلو لري.

په ناول، ډرامه او افسانه کښې د ټولنې کردارونه په داسې ډول ښودل دي چې د خلقو د مثبت کردارونو سره مینه پېدا شي او د ناوړه کردارونو نه کرکه. او په دا ډول په عملي توګه هم، په ټولنه کښې د ښو او بدو کردارونو په حواله یوصحت مند رجحان راپېدا کړے شي. هم په دې بنیاد ناول ته یو حماسي صنف وویئلے شو چې دا د ټولنې په بدو کردارونو رسا ګوزارونه کوي. " پښتو ادب کښې کردارنګاري" د ډاکټر محمد

اعظم اعظم د پي۔ ایچ۔ډي مقاله ده په کوم چې د کردارنګارۍ په اړه تفصیلي بحث شوے دے۔ دا ښاغلے د ډرامې د پاره د ارسطو د لیکنو نه د کردار په حواله داسې تعریف مخې ته راوړي۔

" خصلوتونه به مستقل وي۔ داسې نه چې یو کردار به اول قهرژن او غصه ناک ښئلے شي او وروستو دې بیا هغه رحمدله او مینه ناک شي۔ یا په سر کښې دې یو کردار تورزن او بهادر وي او په آخر کښې هغه بزدل شي۔ د روئیداد یا پلاټ په رنګ ارسطو په کردارنګارۍ کښې هم په دې خبره زور اچولے دے چې څنګه روداد کښې د شاعر د پاره د واقعاتو په چاڼ کښې دا لازمي ده چې هغه دې رښتني یا امکاني وي۔ دغسې په کردارونو کښې هم دا التزام پکار دے چې د فرد عمل او وینا دې د هغهٔ د سیرت او کردار سره جوړښت او ښائست لري۔ [xii]

په دې اقتباس کښې د یو کردار لپاره دا شرط لګولے شوے دے چې هغه دې رښتونے یا امکاني وي۔ اوس نو چې په افسانه، ناول، ډرامه وغیره کښې یو کردار څومره حقیقت ته نزدے وي، هومره به ژور اثر پریباسي ۔ زمونږ عامه مشاهده ده چې چرته یو ناول نګار یا ډرامه نګار د اولس په نبض لاس ایښے او کردار یې حقیقت ته نزدے تخلیق کړے دے نو هغه کردار بیا یو پوخ چاپ پریښے دے۔

" په ناول کښې د ژوند او کردارونه د پوخ تړون او په تفصیلي شکل کښې د ژوند د مختلفو واقعاتو او چاپیرچلونو په حواله د کردارونو د فکري ارتقاء د پاره د نورو اصنافو په نسبت نور هم ګنجائش شته۔ ژوند چې څومره ساده او اوپره ښکاري، دومره ګنجلک او پېچیده هم دے او د تاؤ راتاؤ پېچیده ژوند ګړۍ په ګړۍ بدلیدونکي شکلونه او حالتونه د بنیادمو په سوچونو، عملونو او رویو باندې هم خپل اثرات او نقشونه جوړوي۔ اود ناول کرادرونه د هغه ټولو تجربو څښتې تېرېږي او د هغې نه اثر اخلي، کومې چې د ناول په خوره وره او ویړه دنیا کښې مخې ته راځي" [xiii]۔

اوس دا سوال چې د ناول کردارونه خو د ټولنې د روان ژوند نه اخستي شوي وي نو دا حقیقت ته نزدې وړاندې کول پکار دي او کۀ نۀ د ناول فن څۀ نورې غوښتنې هم کوي۔

" د ناول کردارونه هم اګرچې د روان ژوند نه اخستے شوي وي او په هغې باندې بناء شوي وي ، ولې د کردار ژوند د عمومي (حقیقي) ژوند نه لږ جدا او په بل رنګ وي۔ د ناول لیکونکي کار د یو مؤرخ په شان نۀ وي چې هغه دې د یو فرد په حقله تش تاریخي حالات او واقعات راغونډوي او هغه شان دې بیانوي څنګه چې وي۔ ناول لیکل په بنیادي توګه یو تخلیقي کار وي۔ د دې لیکونکے د ژوندو حقیقتونوسره د خپل تخیل د مالګې ګډون هم کوي"۔ [xiv]

د دې بحث نه دا نتېجې راووځي چې په افسانوي ادب کښې قیصه هم د کردارونو په ذریعه وړاندې ځي یعنې د قیصې د پاره د کردارونو راوړل لازمي دي۔ بل دا چې کردار څومره حقیقت ته نزدې وي نو هومره به زړۀ ته

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT


پريوځي خو د دې سره دا هم ياد ساتل پکار دي چې کردار تراشل چونکې يو تخليقي عمل دے نو دا ښېخي د حقيقت نقل هم نۀ دے پکار، ځکه چې دا به د يو ماډل په توګه وي نو بايد چې څۀ غېر معمولي اوصاف ولري . ترڅو چې د ناول د کردارونو خبره ده نو په ناول کښې مېدان پراخه وي، ځکه نو په دې صنف کښې د کردارونو شمېر هم زيات وي او يو کردار پکښې مونږ په ډېر تفصيل او د هر اړخ نه معارفي کولے شو .

- نوي چپې او کردار نګاري:

کردارونه د قيصې د مخ په وړاندې بوتلو لپاره لازم وي، ځکه چې کۀ مونږ داستانونو ته ځير شو نو ګرچې مافوق الفطرت به وو خو بيا به يې هم د دېوانو، پېريانو، ښاپېرو، بادشاهانو، شهزادګانو، وزيرانو وغيره کردارونه لرل. هم دغه ضرورت دے چې د قيصه ايز ادب د تخيلق لپاره کردار نګاري لازمي کوي.

"د ادب په اصطلاح کښې کردارنګاري هغے فن يا هنر ته وائي کوم چې په يوه قيصه د ( ناول، ډرامه، داستان) کښې د کردارونو د اعمالو د تهذيب او ترتيب او افرادو د سيرتونو او اطوارو د ذهني او نفسياتي تنظيم د پاره استمالېږي" . [xv]

د کردارنګارۍ په حواله هم " نوې چپې" ناول نقادانو د تنقيدي نظرونو نه تېر کړے دے او په دې ضمن کښې يې يو شمېر نيوۀ کړې هم کړي دي.

" خصوصًا د کردار نګارۍ او زاويه نظر غټې غټې خامۍ پۀ دغه ناول کښې ليدلے شي. مثلاً دا چې حمزه بابا ددې ناول تقريبًا د هر کردار پۀ ذريعه د خپل شخصيت او نظرئې هغه اړخونه وړاندې کړي دي، چې بيخي واضح دي او صرف د حمزه بابا سره ئې نسبت کېدلے شي... ..... پۀ اکثرو موقعو حمزه بابا د کردار د تقاضې او مزاج خلاف خپله نظريه په کرداونو ورتپلې ده، چې يوه واضحه فني خامي ده چې د فکشن په اصطلاح کښې ورته د زاويه نظر تکنيکي خامي وئيلے شي . د ګلرخ د کردار پۀ ذريعه د تصوف او فلسفې نمائندګي کول هم ترډېره حده غېر فطري عمل ښکاري". [xvi]

په قيصه ايز ادب کښې او په خاصه توګه په ناول کښې چې ترڅو د کردار نګارۍ خبره وي نو ناول د ژوند ترجمان وي، د ژوند آئينه وي خو د دې کردارونه کۀ ښېخي په حقيقي شکل کښې وراندې کړے شي نو بيا د فن غوښتنې نۀ پوره کوي، ځکه چې ناول نګار به د ناول په کردار کښې د مثاليت لړه ډېره مالګه خامخا ګډوي، ګني بيا به دغه د ناول نګار فنپاره نۀ بلکې د يو صحافي رپورټ او بيان وي . په قيصه ايزادب کښې کردارونه هم بېلابېل قسمونه لري چې د دې فن پوهانو يې تجزيه کړي او بيا ئې پرې تبصرې کړي دي.

"په کردارونو کښې چې کوم پۀ ټوله قيصه کښې په يو انداز روان وي او خپل شکل نۀ بدلوي هغې ته (Flat) يا جامد کردار وائي او کوم چې د واقعاتو او پلاټ د تقاضې سره سم خپل شکل بدلوي، هغو ته (Round) يا متحرک کردارونه وائي . لوي کردار ته (Major Role) او وړو کردارونو ته (Minor Roles) يا (Supporting Roles) وئيلے شي . کوم لوي کردار چې پۀ ټوله قيصه کښې جوت او پېش پېش وي هغې ته مثال يا (Type) کردار وئيلے شي". [xvi i]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



د کردارونو د بره تعریف یا معلوماتو په تناظر کښې کۀ مونږ د "نوې چپې" کردارونه وڅېړو نو د هغې ترمخه دا ناول د کردارونو نزدې نزدې ټول قسمونه لري. لکه د سلیم کردار، دا جامد هم دے او مثالي هم. د سلیم په کردار کښې داسې احساسېږي لکه چې حمزه بابا په خپله لګیا وي. هم دا رنګه د " نوې چپې" نور اهم او جامد کردارونه د ګلرخ، اکبرخان، عظیم خان، عزیزخان او قلندر خان دي.

ترڅو چې د وړو یا (Supporting Roles) یعنې مرستیالو کردارونو تعلق دے نو په ذکر اثر کښې یو شمېر کردارونه مونږ په دې درجه کښې اچولے شو لکه نور کلیم، بشیراحمد ، محبوبه، خورشید ، محمدآمین او رفیق وغیره.

د (Round) یا متحرک کردار په دې ناول کښې د لطیفه بېګم کرادر دے چې په وړومبېو کښې د مغرب د تعلیم او ټولنې نه متاثره وي، په هغې عمل هم کوي او تبلیغ هم، خو په وروستۍ برخه کښې پښتنې اقدارا‌و فکر خپل کړي او په دا ډول یو پښتون کردار " یوسف خان" یې په نکاح کړي. یعنې د کلتور سره د سمون په بنیاد په پښتنۀ کورنۍ کښې په ښه ډول ځائے شي. د دې ترڅنګ د یوسف کردار چې په ابتداء کښې د لور د خوښۍ او شاعرۍ دښمن وي، د ناول په وروستېو کښې د خپلې لور خوښۍ ته غاړه کېږدي نو په دې بنیاد مونږ "یوسف خان" ته هم یو متحرک وئیلے شو.

- د "نوې چپې" ناول کردارونه:

❖ نارینۀ کردارونه:

○ سلیم:

سلیم د "نوې چپې" ناول مرکزي کردار دے او د قیصې مرکزي خیال هم د دۀ نه تاوېږي. دا یو داسې ځلمے وي چې سنجیده هم وي، د خپل نقطه نظر لپاره کوټلي دلیلونه هم لري، د اورولو سره د اورېدو صلاحیت هم پکښې وي او خپل مرام د لاس ته راوړو یوه واضحه او قابل عمل خاکه ورسره وي. د سلیم د مکالمو په ذریعه چې څنګه فلسفیانه انداز خپل کړے شوے، نو داسې معلومېږي لکه چې حمزه بابا په خپله د "سلیم" په شکل کښې په دې قیصه کښې موجود دے. دویم دا چې په یو ناول کښې یو توکې د "فلسفه حیات" هم وي او په هغې کښې ناول نګار د خپل ژوند فلسفه یعنې لیکوال ژوند ته په څه نظر ګوري، وړاندې کوي. په "نوې چپې" ناول کښې د سلیم په ذریعه حمزه بابا عموماً د خپل ژوند او خصوصاً سیاسي فلسفه وړاندې کړې ده.

○ عظیم خان:

عظیم خان په " نوې چپې" کښې د تېراه اوسېدونکے هغه کردار دے چې دا په ښاریه کښې د سلیم دوي په کور کښې د یو نوکر په توګه پاتې شوے وي او د دغه کورنۍ سره ئې نزدې تعلق وي خو په لالچ کښې راشي او سلیم او د هغه خور ګلرخ ولجه کړي. عزیز خان د عظیم خان زوي او کلیم د دۀ کشر ورور وي چې په قیصه کښې ئې د ولجې په اوان کښې مختصر کردار لوبولے دے.

○ اکبرخان:

اکبرخان د تېراه اوسېدونکے وي او د سلیم دوست او اشنا وي. کله چې د یو بل کردار عظیم خان، سلیم ولجه کړي نو اکبرخان د سرنه تېر د سلیم د راخلاصولو کامیابه هڅه وکړي او په دا ډول د دوستۍ حق ادا کړي. د دې نه علاوه د پښتون اتحاد په منډو ترړو کښې هم فعال کردار لوبولو ته چمتو وي. په سیاسي توګه دا په "نوې چپې" کښې د احرارو نمائندګي کوي. حلیمه د دۀ مور او شیر احمد ماما ئې نوکر وي.

○ محمد آمین خان:

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



حاجي محمد آمین د سلیم پلار او په پېښور کښې د مېوؤ سوداګر وي. د خپل ورور په وېنا ئې خپله لور ګلرخ ، په وړوکوالي کښې د خپل ورارهٔ قلندرخان په نوم کړې وي. خو وروسته چې کله ګلرخ دغه رشتې ته غاړه نهٔ ږدي او ورور سلیم ئې هم پلوي شي نو قلندر خان په قهر شي او خپل تره محمد آمین خان مړ کړي ، چې بیا د هغه د وصیت ترمخه یې لاش خاورې ته د سپارلو لپاره افغانستان ته یوړلے شي.

- قلندر خان:

قلندر خان د سلیم د ترهٔ زوي وي چې د وړوکوالي نه ګلرخ ( دسلیم خور) د دهٔ په نوم وي. خو د قلندر خان د بدو عادتونو له سببه اوس ګلرخ دغه رشتې ته غاړه نهٔ ږدي. پلار یعنې محمد آمین خان یې بیا هم د دغې رشتې په ځاے د ساتلو په حق کښې وي خو سلیم غواړي چې دغه لوظ دې مات شي. کله چې د محمدآمین خان کورنۍ قلندرخان ته انکار وکړي نو هغه په تاؤ کښې راشي او محمدآمین خان مړ کړي.

- رفیق او عصمت الله:

رفیق او عصمت الله د ناول " نوې چپې" سیاسي کرادرونه دي. حمزه بابا چې د پښتنو د یووالي د مرکزي خیال سره تړلي کوم بحثونه کوي، نو دوي دغه مکالمې په وړاندې بوتللو کښې کردار ادا کوي. د دې ترځنګ څو نور واړه کردارونه هم په " نوې چپې" کښې شته.

- ښځینه کردارونه:

- ګلرخ:

ګلرخ د "سلیم" خور وي چې د ښائست او پوهې یوه نمونه وي. د ناول "نوې چپې" په وړومبي باب کښې عظیم خان د سلیم ترځنګ د دهٔ خور ګلرخ هم د تاوان په غرض ولجه کړي. د ګلرخ کردار د یوې تعلیم یافته او مشرقي روایاتو د مینه والې په توګه په ذکر ناول کښې ښودلے شوے دے. حمزه بابا د پښتنو د اتحاد د پاره د د دوي یعنې پښتنو خپل منځي خپلوۍ هم ضروري ګڼي، ځکه نو ګلرخ د " نوې چپې" په ورستېو کښې ، سلیم د خپل دوست اکبرخان په نوم کړي.

- صفیه:

صفیه د اکبرخان خور وي چې یوه پوهه، ښکلې او سنجیده جینۍ وي. د پښتنو د یووالي او یو بل ته د نزدې کېدو په غرض حمزه بابا په "نوې چپې" کښې د ورور اکبر خان په ذریعه، صفیه د خپل دوست او همکار سلیم په نوم کړي. یاده دې وي چې د "نوې چپې" ناول په قیصه کښې د رومان کوم رنګ ګډ کړے شوے دے، هغه هم د اکبرخان او ګلرخ او دغه شان د سلیم او صفیه د کردارونو په صورت کښې دے.

- لطیفه بېګم:

لطیفه بېګم د "نوې چپې" یو داسې کردار دے چې د جینکو مکتب کښې ښوؤنکې وي، د وخت، اصولو پابنده وي او د دې سره د مغربي تهذیب نه هم متاثر وي. د لطیفه بېګم د کردار په ذریعه حمزه بابا د نورو کردارنو سره د مشرق او مغرب د تهذیببو په حواله ښه بحث کړې دے، کوم چې په کوټلو دلیلونو اډانهٔ دے . هسې خو لطیفه بېګم د ناول په قیصه کښې په درمیانه عمر کښې رانښکاره کېږي خو تر دغه وخته ناوادهٔ وي ، خو کله چې د مشرقي اقدارو پلوي او مینه واله شي نو یو بل کردار یوسف خان ئې ځان په نکاح کړي. یعنې وړومبے "مېډم" وي او بیا "بېګم" شي. په دې کښې داسې معلومېږي، لکه حمزه بابا چې دا ښودل

غواړي چې په پښتنه ټولنه کښې د ځائیدو د پاره د دې ټولنې اقدار خپلولو ضروري دي. په دا ډول مونږ وئیلے شو چې لطیفه بېګم د ناول " نوې چپې" یو Round کردار دے.

- ګلبدن:

ګلبدن د عظیم خان کورودانې وي چې کله عظیم د لالچ په تېس کښې د خپل مالک زوي او لور (سلیم او ګلرخ) ولجه کړي نو ګلبدن د عظیم خان د دې کار د مخې نیولو هڅه وکړي خو په یو نراوکه ټولنه کښې د هغې خبره ځاے وۀ نۀ نیسي.

- محبوبه:

محبوبه د "نوې چپې" یو ډرامائي کردار دے ، خپل نوم ئې خورشید جهان وي، کومه چې یوه تعلیم یافته جینۍ وي او ورسره شاعره هم وي، پلار (یوسف خان) ئې وادۀ کول غواړي خو دا د پلار خوښې ته غاړه نۀ ږدي او یوه ورځ د کور نه وتختي. او په خپل نوم بدلولو سره په ځان محبوبه نامه کېدي او د سلیم دوي په کور کښې نوکره شي. هم دا رنګه د " وفا" په نوم ئې کلامونه په مجلو کښې چاپ کېږي، خو دوي نۀ وي خبر، چې دا د یوسف خان لور او دومره ښه شاعره ده. دغه راز په اووم باب کښې هله ښکاره شي چې لطیفه بېګم، محبوبه د سلیم دوي په کور کښې وېني او د هغې پلار یوسف خان خبر کړي.

❖ نتیجه:

په " نوې چپې" دا اعتراض په ځائې کېدے شي چې زیاتره کردارونه یې فلسفیانه بحثونه کوي، ګرچې د ځېنې کردارونو پس منظر یې د کم تعلیم یافته طبقې نه دے. بل دا چې کله کله پکښې د فلسفې او تصوف بحث دومره ژور وي چې د یو تخلیقي اثر په ځائې د ذکر موضوع کوم د فلسفې اثر احساس شي. هسې خو په ناول کښې لیکوال د کردارونو په ذریعه خپل فلسفه حیات وړاندې کوي خو باید چې دا د فن په جامو کښې نغښتي وي. کۀ چرته دا عمل د تخیل په رنګ کښې رنګ او فن په مالګه مالګین نۀ وي نو د دې خبرې امکان وي چې دغه اثر په لوستونکي هغه پېریان را نۀ وستے شي چې کوم لیکوال غواړي. په دې تله چې کله مونږ د "نوې چپې" ناول تلۀ نو دا خبره په ډاګه کېږي چې د حمزه بابا د فلسفیانه فکر اغیزه په کردارونو دومره ژوره ده چې هر کردار ئې په خپل رنګ کښې رنګ کړے دے او په دا ډول په ځینې ځایونو کښې په کردارونو د حقیقي مینه نۀ ماتېږي او داسې "نوې چپې" د ادبي نه زیات علمي اثر ته نزدې کوي. خو بیا هم د پښتو ناول په ارتقاء او د خپل پېغام د زورورتیا په سبب "نوې چپې" د پښتو ناول نړۍ په شمله کښې لکه د ګلاب د ګل په مسکا دے او ورېمې به ئې ترډېره لوستونکېو ته د تحریک، پرمختګ او خپلواکه ژوند احساس ورکوي.

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



حوالې:

---

[i] ـ حنیف خلیل، ډاکټر، پښتو ناول، تحقیقي او تنقیدي جائزه، ملّت ایجوکېشنل پرنټرز لاهور، کال ۲۰۰۰ء ، مخ ۵۰

[ii] ـ خاطر غزنوی ، داستان امیرحمزه ، منظور عام پریس پشاور ، سال اشاعت ۱۹۹۶ء ، صفحہ ۹۳

[iii] ـ انور جمال پروفیسر ، ادبی اصطلاحات ، نشنل بک فاؤنڈیشن ، اسلام آباد ، ۲۰۱۹ ، ص ۱۶۹

[iv] ـ مومند قلندر، او فرید صحرائي، دریاب، امید پرنټرز دربار مارکیټ لاهور، ۱۹۹۴ مخ ۱۲۳۸

[v]. S.S. Hussain M.A, Dictionary of Literary Terms, New KitabMahal, Urdu Bazar Lahore, 2007-8 P.242

[vi] ـ اعظم، اعظم، محمد ، ډاکټر، پښتو افسانه تحقیق او تنقید ، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، کال ۲۰۲۱ء، مخ ۵۹

[vii] ـ احسن فارقی، محمد، ڈاکٹر، نور لحسن ہاشمی، ڈاکٹر، ناول کیا ہے؟ اعراف پرنٹرز، محلہ جنگی پشاور، سن ۲۰۲۱ء، صفحہ ۶۴

[viii] . THE ENCYCLPAEDIA AMERICANA, VOLUME No. 6

[ix] ـ اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردار نګاري، ملت پرنټرز لاهور، کال ۱۹۹۳، مخ ۲۳

[x] ـ اسیر، احمد علي، پښتو ناول او ناولونه، فنون ګرافکس پېښور، کال ۲۰۱۳ء، مخ ۲۹

[xi] . فاروقی ، محمد احسن ، ڈاکٹر ، نور الحسن ہاشمی ، ناول کیا ہے ؟ اعراف پرنٹررز ، پشاور ، ۲۰۲۱ ، صفحہ ۱۹

[xii] ـ اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردار نګاري، ، مخ ۲۵

[xiii] ـ اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردار نګاري ، مخ ۳۴

[xiv] - طائزے، شیر زمان، ناول هنر او سفر، ،(خورؤنکي) کامل پښتو ادبي جرګه، ضلع نوښار، کال ۲۰۰۴ء مخ سس ۲۶

[xv] - اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردار نګاري، مخ ۲۸

[xvi] - حنیف خلیل، ډاکټر، پښتو ناول، تحقیقي او تنقیدي جائزه، مخ ۵۰

[xvii] - حنیف خلیل، ډاکټر، پښتو ناول، تحقیقي او تنقیدي جائزه، مخ ۲۵-۲۶